لیکوال : پوهنمل رحمت ځواکمن
یدېټر: پاینده څرګند

نېټه ۰۸/۱۰/۲۰۱۰

# طنز

## د مچ په سر وژونکی ګوزار!

مامور شمشتو ته چې ټوله شپه غوماشي او مچان په غوږونو کې بنګېدلي وو او د غوماشو بنګس یې تر سهاره سترګې پټېدلو ته نه وې پرېښې، نو همدا چې د څانګې په وره راننوت د څانګې له همکارانو سره یې په تریو وچولي روغبړ وکړ او په بیړه د خپل مېز تر شا چې په یوه ګوښه کې و کېناست. د کېناستو سره سم یې د کورتی له جیب نه د عینکود څرمنی کڅوړه راواخیسته. عینکې یې په سترګو کړې په بیړه یې د مېز په سر دوسیه راجګه کړه او د دوسیې د پاڼو په اړولو یې پیل وکړ. داسې برېښېدله لکه چې د کوم ورک لیک او یا بل څه په لټه کې و. موږ ټولو د مامور شمشتو همکارانو دغه شپېه مامور شمشتو د سترګو لاندې څاره او د مامور شمشتو د پټې خولې کارکولو ته هک پک پاتې وو. مامور شمشتو لا د دوسیې پاڼې ترپایه نه وې لټولې چې ناڅاپه له ځایه جګ شو، اخوا دېخوا یې سترګې تاوې راتاوې کړې، خو لکه چې څه شی یې ونه موند نو ژر یې سرته لاس کړ او خپله برګه قره قولې یې راجګه کړه په ګوتو کې یې ټینګه ونیوه، د مېز یوې څنډې ته یې سترګې برندې کړې او داسې لکه چې د کوم کېچه مار وژلو ته یې ځان چمتو کاوه، قره قولې یې پورته کړه او د مېز په څنډه یې کلک ګوزار وکړ. مالومه شوه چې مامور شمشتو په مچ ګوزار کړی و او مچ په سپین سترګۍ د قره قولې له کوم سورې نه والوت ، د مېز په بله څنډه مامور شمشتو ته مخامخ کېناست او د بروتانو په تاوولو او ښورولو یې مامور شمشتو ته ګواښونه پیل کړل. د مچ دې سپین سترګۍ ته مامور شمشتو له غوسې نه تو راو شین واوښت او د مېز بلې څنډې ته په بې صبرۍ ورتاو شو دا ځل یې د لوی مدیر مېز ته لاس ور اوږد کړ او د لرګي دوه متره خط کش یې راجګ کړ، د خونې تر چت یې په دواړو لاسو لوړ که او بیا یې د مچ په سر وژونکی ګوزار وکړ. داسې ګوزار چې د مچ څېره چا په سترګو ونه لېده خو یوازې د خط کش ټوټې هره خوا والوتې او د ګوزار سره یوځای د مامور شمشتو عینکې پر ځمکه دړې وړې پرېوتې. بله ورځ مامور شمشتو په اداري مجلس کې د خطکش د تاوان ورکولو ترڅنګ په موسسه کې د غوماشو او مچانو سره د مبارزې د کمیسیون د رامنځته کېدو په وړاندیز ټینګ ولاړ و. په پای کې یې د غوماشو او مچانو په وسیله د ساري ناروغیو د لېږدولو او نورو ضررونو په مستدلل بیانولو سره د مجلس ګډونکوونکی په موسسه کې له غوماشو او مچانو سره د مجادلې د کمیسیون په جوړولو راضي کړل او د رایو په یووالي ښاغلی شمشتو د هغې موسسې د غوماشو او مچانو سره د مجادلې د کمیسیون د مشر په توګه وټاکل شو. وروسته نوموړی کمیسیون د یوې مصوبې په ترڅ کې د ملاریا او لشمانیا سره د مجادلې د کارکوونکو کمزوری کار وغانده او په دې برخه کې یې خپل رسمي احتجاجیه لیک د هغه ریاست په نوم واستاوه. اوس اوس چې مامور شمشتو زموږ د موسسې د غوماشو او مچانو سره د مجادلې د کمیسیون د مشر په توګه کار کوي، د یادونې وړ لاس ته راوړنې لري او د هغه د دوه میاشتني رپوټ څخه څرګندېږي چې تراوسه یې له دوو سوو زیات مچان او له یوسلو پنځوسو زیات ډول ډول د ملاریا او کال دانو د ساري ناروغیو لېږدوونکي غوماشي وژلي دي. په دې برخه کې د مامور شمشتو فداکاري چې، خپله قره قولي یې په غوماشو او مچانو د ګوزارونو له امله سورۍ سورۍ کړې او له کاره لویدلې ده، بېسارې ده.

مامور شمشتو هیله من دی چې د سږني کال د غوماشو او مچانو سره د مجادلې په سیالۍ کې به دده ګوزاریزه ډله خامخا لومړی مقام ترلاسه کړی او د ملاریا او لشمانیا سره د مجادلې ریاست به له شرموونکې ماتې سره مخ کړي!!!

۱۳٦۸ل



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ